# د لومړي کتني کتابچه

# CIVIL RESISTANCE: A FIRST LOOK (BOOKLET)

INTERNATIONAL CENTER ON NONVIOLENT CONFLICT

2011

# TRANSLATOR’S NOTES

## ولسي مبارزه څه ته وايي؟:-

ولسي مبارزه د عامو وګړو لپاره دخپلو حقونو، ازادۍ او عدالت لپاره پرته له دې، چې تاوتریخوالي وکاروي، د جګړې کولو یوه لاره ده. په ولسي مبارزه کې شامل خلک په پراخه کچه ټولنیز، سیاسي او اقتصادي بدلون د رامینځته کیدو په خاطر د بېلابېلو تاکتیکونولکه اعتصابونو، شلونونو، پرخه مظاهرو او نورو اقداماتو له لوري ولسي مبارزه په لاره اچوي، په ټوله نړۍ کې ولسي مبارزه په بېلابېلو نومونو لکه له تاوترخوالي خالي مبارزه، مخامخ اقدام، دخلکوواک، سیاسي انکار او ولسي مبارزه(عدم تشدد)په نوم سره یادیږي. پرته له دې، چې مونږ کوم نوم ورته کاروو، د ولسي مبارزې اساسي ینامیکونه(ځګړتیاوې)ورته دي.

ولسي مبارزې تحریکونه ځکه زیات طاقتور دي، چې دوي استبداد سره د مقاومت په خاطر پراخه ولسي ګډون ته لاره هواروي. دوي دیوي نسبتأ ازادۍ او په عدالت ولاړې ټولنې یو لرلید وړاندې کوي. کله چې خلک دظالمو واکمنو سره د همکاریو د بندولو پریکړه وکړه، د سیستم لپاره دوام ډیر زیات ستونزمنګرځي،کله چې کافي شمیر خلک د غاړه نه ایښودلو پریکړه وکړي، سیستم دوام نشي کولاي او همدغه وخت دي، چې سیستم اړ دي چې تغیر وخوري او یا هم سقوط وکړي،ګر چې د ولسي مبارزې مخالفینښه مخهز او ښو مالي سرچینو ته لاسرسی لري. دوي نه دي توانیدلي چې دپراخه ولسي غاړه نه ایښودنې او مدني اخلال، چې ولسي مبارزې د پراخه اوستراتیژکي کړیو په وړاندې پښیټینګي کړي. همدا لامل دي، چې د ولسي مبارزې تحریکونو او مبارزې ډول ډول مخالفینو پر وړاندې بریالۍ ثابتې شوې دي.

د تیرې پیړۍ په هره لسیزه کې د نړۍ په شپږو لویو وچو کې، ولسي تحریکونو د ولسي مبارزو په ملاتړ متبید رژیمونه پرځولي، د نظامي اشغال برخلاف یې بریالۍ مبارزې کړیدي او خپلوټولنو ته یې لا ډیر عدالت او ازادۍ راوړې ده، د یلګې په ډول مدني مبارزې په جنوبي افریقاکي دنژادي تبعیض په له مینځه وړلوکي پریکنده رول درلود، ولسي مبارزې د امریکامتحده ایالتونوکي دښځو د حقونو، مدني حقونو او دمزدورانو د حقونو د لاسته روړلو لپاره وکاریده، دغه ډول مبارزې په فلیپین، چیلي، اینډونیزیا، صربستان اونورو ځایونو کې دیکتاتورانو راپرځول دي، دغه ډول مبارزې په ډینمارک اوتیمورلیستي کې دبانډني اشغال مخه ونیوله، ولسي مبارزې د هند سره له بریتانې دازادۍ په اخستلوکي پریکنده رول ولوبولو، دغه ډول مبارزې په شرقي اروپا کې له اختلاس څخه دکیټاکنې ردکړې، په لبنان کې یې دسوریې اشغال پایې ته ورسولو او په نورو ډیرو هیوادونو کې یې د بشر حقونو، عدالت اوولسواکه خپلواکۍ لپاره کارول شویده.

**کلیدي مفاهیم:-**

ولسي مبارزه د وسیلي په توګه او ولسي مبارزه یو اخلاقي چلند په توګه د وسلې په توګه ولسي مبارزه دسیاسي لانجي یو ډول دي، عدم تشدد کله، چې له اخلاقي پلوه څیړل کیږي، هغه وخت بیاعدم تشدد د اصولو یومټولګه وي، چې خلک له تاوتریخوالي ساتي. دولسي مبارزو په ځینو

بریـالیو تحریکونـو لکـه د هنـد د ازادۍ تحریـک او د امریکـا د مـدني حقونـو تحریـک عـدم تشـدد د روحانیت پـه توګـه خلکـو تـه تبلیـغ کـړه، خـو ولسـي مبـارزې پـه کارونـه کـي داسـي کومـه ځانګـړتیـا نشـته چـې ددغـه ډول مبـارزې ترسـره کـوونکي د خپـل ځـان پـه خـاطر وکـاروي، پـه حقیقـت کـې د تـاریخ پـه اوږدوکـې داسـې ډیـرممکن وو، چـې اکثریـت ولسـي مبـارزې لـه روحانیـت څخـه سـرچینه اخسـتي وي، ددي بـرعکس اکثریـت ولسـي مبـارزې لـه دیـې حقیقـت څخـه سـرچینه اخسـتي وه، چـې دغه مبارېزینو لپاره د مبارزې د تر سره کولو لپاره ترټولو موثره وسیله وه.

## دواک یکنواخت اوپلوراستیکي تیوریاني:-

پـه ډیـروټولنـوکي د واک پـه اړه غالـب نظـر دادي، چـې واک یـوه یکنواخـت پدیـده ده(لـومړنـي انځـور وګـورئ)ددي مانـا داده، چـې عـام خلـک ددوي د حکومـت او ادارو پوښـه نیـت،پریکړو او ملاتـړ متکـي دي، واک تـه د داسـي یوشـي پـه توګـه کتـل کیـږي، چـي یـواځې یـی هغـه خلـک لـري څـوک د قومانـدې پـه سـرکي قـرار لـري او څـوک، چـې زیـات دولـت او د تـاوتریخوالي وړتیـا لـري، دواک یکنواخـت نظـر لـه مخـې واک پخپلـه را پیـدا کیـدوونکي، د وامـداره او پـه اسـانه نـه بدلیـدونکيګـڼـل کیږي.

خـو دواک پلوراسـتیکي تیـوري یـو بـل نظـر لـري، ددغـه نظـر لـه مخـي واک پـه پراخـه توګـه دخلکـو پـــه غـــاړه ایښـــودنه اوتعبـــدارۍ ولاړې دي. دواک دپلوراســـتیک نظـــري لـــه مخـــي واک دټـــولنې دبېلابېلـــو برخـــو پـــه ګـــډون او رضـــایت ولاړ دي.واک مـــري دي واک د خپـــل ســـرچینو د تکمـــل لپـــاره بېلابېلـــو ادارو او خلکـــو پـــه همکـــارۍ ولاړ دي، لـــه دي املـــه د ولســـي مبـــارزې تحریکونـــه ددي نظـر، چـې هغـه خلـک د عـادي خلکـو د ایتلاف لـه لاري د دولـت اقـدام مختـل کـوي کـولای شـي، چې هغه سرچپه اوبې تاثیره کړي ولاړ دي او خپلېتګـلارې ته وده ورکوي.

## داقداماتودکولواودممانعت اقدامات:-

دتـاریخ پـه اوږدو کـې ولسـي مبـارزینو سـلګونه تاکتیکونـه کـارولي دي. دغـه تاکتیکونـه پـه دوه سـترو ډلګـیو ویشـل کیـږي، د ممانعـت اقدامات هغـه اقدامات دي پـه کـوم کـي، چـي ولسـي مبـارزین هغـه څـه نـه کـوي د کومـو، چـې لـه دوي څخـه د تـر سـره کولـو توقـع کیـږي. ددغـه ډلـي تـاکتیکونو یلګـې دکـاګـرانو اعتصـابونه، لـه مـالیي ورکولـو انکـار کـول او د مسـتهلیکو شـلون دي. د تـر سـره کولـو د

اقداماتو په ډلګۍ کي خلک هغه څه کول پیلوي کوم، چي دوي په نورماله حالاتوکي نه ترسره کوي او یا له دغه ډول کارونو د ترسره کولو څخه منع شوي وي.

ددغه ډول اقداماتو یلګو کي اعتصابونه، ولسي وظاهري، ناستو او د مدني غاړه نه ایښودنو نور ډولونه شامل دي. ددغه تاکتیکونو ستراتیژکي تسلسل دتحریک دمخالفینو لپاره دموجود حالت دوام ستونزمنګرځوي، د تاکتیکونو ستراتیژیکي تسلسل عادي خلک هڅولي، چي په تحریک کي ګډون وکړي، دا چي تاکتیکونه بیلابیل ډولونه درلودلي شي زیات خطر لروونکي اوکم خطر لروونکي، دولتي او شخصي، متمرکز او خپاره، چي دغه ځانګړتیاوي ټولني له بېلابېلو برخو خلکو ته په مبارزه کي ګډون کولو وړتیا ورکوي.

**یوالي،پلان جوړونه اوله تاوتریخوالي پاک نظم:-**

بریالۍ ولسي مبارزې دري اصول یووالي، پلان جوړول او د تاوتریخوالي خالي نظم دي، د ټولني دبېلابېلو برخو څخه خلک څوک، چي شاېد یو له بله متفاوت شکایتونه ولري، ټاکلي موخو د لاسته راوړنو په خاطر د متحرک کولو په مټ یووالي ترلاسه کیدي شي، د اقدام کولو لپاره د مواقعو او حالاتو په احتیاط ډک څېړني د مبارزو او تاکتیکونو ستراتیژیک تسلسل ته پلان ویل کیږي. په پلان جوړونه کي ممکنه شاګونه او د هغو لپاره احتمالي پلانونه هم شامل دي. له تشدد خالي نظم کي تاوتریخوالي نه کولو او یوالي او یوالي له تاوتریخوالي خالي تاکتیکونو کارول ستراتیژیک ژمنتیا شامله ده. ددي لامل دادي، چي تاوتریخوالي ولسي ګډون کموي، د تحریک مشروعیت ته زیان رسوي، نړوال ملاتړ راکموي او د وفاداریانو د بدلون چانس راکموي.

**لس پښتني:-**

**۱:-دخلکو لخوا د ولسي مبارزې دکاروني په مټ څه ډول ځواکمن واکمنو ته ماتي ورکول کیږي؟**

هیڅ واکمن په موروثي لحاظ واک نلري. واکمن یواځي هغه وخت ځواک لري کله، چي دوی په ټولنه کي په میلیونونه خلکو ملاتړ له ځان سره ولري، ددي لپاره، چي واکمن کنترول ولري، باید پولیس، پوځ، عدلیه او ملکي مامورین (بیروکراسي) خپل کارونه ترسره کړي. پهټولنه کي خلک باید په با قاعده ډول کارونو ته لاړشي، مالیه اوکرایه ورکړي، په ماکیټونوکي سوداو اخلي ترڅو د دولتي تجارتونو او یا ددولت لخوا لایسنس ورکړل شوي تجارتونه تقویه کړي،

هغه خلک، چې په بهري بيړيو اوټرانسپورټ، همدارنګه په افهام او تفهيم او نورو اسانتياوکي کارکوي، بايد اموالو انتقال ته دوام ورکړي او خدمات ترسره کړي.

دا يواځې د يو ځګروپونو، چې دسيستم دفعاليت لپاره د هغوي ملاتړ پريکنده دي يو ځو ېلګې دي. پدغه پوهيدلو سره ولسي مبارزين داسي ستراتيژياني رامينځته کوي، چې د خلکو لخوا د سيستم ځخه ملاتړ لړزوي او د مخالفت لپاره د موجودو حالاتو تداوم ستونزمنګرځوي. د بغاوت او احتجاج کولو لپاره دستر شنيرخلکو متحريک کول په ځانګړي ډول هغه وخت کي، چې خلک خپل حق کاروي د واکمنو مشروعيت راکموي د دولت دکنترول داخلال له لاري د ولسي مبارزې تحريکونه د سيستم د تداوم بيه تريوي داسي کچې لوړوي، چې د سيستم مدافعين دسيستم د راتلونکي په اړه پښتني کول پيلوي هغه وخت، چې د دوي وفاداريانې کمزوري شي، د استبداد هر ډول پلي کول بيا ستونزمنګرځي.

### ۲:-ولسي مبارزه ځګه پيل کيږي؟

ډيري ولسي مبارزې لومړي اقدام کولو لپاره د عادي خلکو د وړتيا له لوړولو پيليږي، د خلکو تر مينځ د يووالي رامينځته کولو او نظم په خاطر دکم خطرلرونکي تاکتيکونه ډير مهم دي، د ېلګې په ډول وړاندي له هغې، چېګاندي په هندکي خپله لومړنۍ ولسي مبارزه پيل کړه، نوموړي مياشتې او کلونه د عادي خلکو سره په خبرو کولو، د هغوي په ستونزو پوهيدلو، د هغوي داميدونو او په ويرې باندې پوهيدلو باندې تير کړل.

هغه داحس، چې ځرنګه د خلکو وفاداريانې اوهمکاري راجلب کړي، رامينځته کړو، نوموړي خلک وهڅول، چې په (تعميري کار)کي ونډه په خدمت کوم چا، چې په رياست باور له لاسه ورکړي او ځوک، چې په اقدام کولو کي پر خپل ځان بي باوري وو ترسره کړي. يو ځل، چې مخامخ مبارزې له پيل لپاره د خلکو وړتيا زياته شي، دوي بيا اکثره دسيمه ييزو موضوعاتو، چې په پراخه کچه دعادي خلکوغوښتنې منعکس کوي کي بشکيل کيږي، د بيلګې په توګه په پولنډکي د همغږۍ تحريک دکيشتو په يوتمځاي کي له مخامخ اقدام پيل شو.کله، چې دغه اقدام ديو موضوع په اړه بريا ترلاسه کړه او يوه ازاده اتحاديه يې رامينځته کړه، دغه بريا د هيواد په کچه د پولنډ په خلکو ستر رواني تاثير درلود او تحريک قوت ترلاسه کړ. همدارنګه د امريکا د مدني حقونو تحريک وروسته له هغه، چې په سبونو او دوکانونو کي احتجاجي ناستو او شلونونو د امريکا په يوځو جنوبيښارونوکي نژادي تبعيض پايې ته ورسولو. دغه بريا وسره د تحريک د ولسي مبارزې بريا په ټګه کړه او په ډيره تيزۍ سره يې په ملي کچه توجه او د خلکو ملاتړ راجلب کړو.

### ۳:-زه ځرنګه احتجاجونه تنظيم کړم؟

د يو تنظيم لپاره ستراتيژيکي پلان جوړونکي بايد د خپل تحريک موخې، وقوت نقطې،کمزوريانې او وړتياوي او همدارنګه هغه ملاتړ، چې دريمګړي او باندني لوبغاړي يې

ورمولي شي بای دېټګوته ګړي. هر کله، چې یو تحریک په روښانه ډول خپل لنډ مهالي، منځمهالي او اوږدمهالي موخې تعریف کړي او د حالاتو تفصیلي او سیستماتیکه ارزونه وکړي تحریک دغه مهال کولای شي په ښه طریقه هغه تاکتیکونه، چې دوي یې پلي کول غواړي په ګوته کړي، دغه وخت که تحریک وغواړي، چې د اصلي تاکتیک په توګه د احتجاجي مظاهرې څخه استفاده وکړي او هڅه وکړي، چې دغه تاکتیک کې بریالي شي دوي دغه وخت د خپل کار د تر سره کولو لپاره بېلابېلو تخنیکي او تاکتیکي اتحادو ته لاسرسی لري.

## ۴:-که احتجاج نه وي،نوڅه بایدترسره شي؟

ډیر خلک فکر کوي، چې احتجاجونه د ولسي تحریکونو لومړنی فعالیت دي. خو له هغو ډول ډول تاکتیکونو څخه یو یې احتجاج دي کوم، چې په ولسي مبارزه کې تر سره کیدای شي. څه د پاسه دوه سوه تاکتیکونه موجود دي، چې له هغو څخه دولسي مبارزو په لاره اچولوکي استفاده کیدلي شي، ډول ډول شلونونه (مستهلیکینو، سیاسي اوتولنیز)، اعتصابونه،کاربندورکول، دکرایه ګانوله مالیو، فیسونو ورکولو انکارک ول، د عرایضو ورکول، مدني انکار، احتجاجي ناستي، دسرکونو بندول، او د موازي ادارو رامینځته کول د عدم تشدد یو څو تاکتیکونه دي. د تاکتیکونو غوراوی او تسلسل د تحریک لخوا د حالاتو ارزولو د تحریک د وړتیا او موخو په ارزولو ولاړي دي، ددي لپاره، چې یوضعیف تحریک دتحریک وړتیا لوړه شي.

خپل پیغام په درست ډول ورسولي شي او مخالف اخلال کړي شي، تحریک شاید دکم خطر لرونکي تاکتیکونه لکه شلونونه او د ناملومو سمبولونو ښودلو څخه استفاده وکړي، له څه وخت وروسته، چې تحریک پیاوړي شي تحریک کولای شي، چې مزید متمرکز اقدامات لکه احتجاجونه، مارشونه، احتجاجي مظاهرې او ولسي غاړه نه ایښودنې تاکتیکونه وکاروي. مهمه ده، چې په یاد ولرو، چې ددي له امله، چې احتجاجونه اکثره وختونه د هغو خلکو، چې ولسي مبارزې په لار اچولو په اړه فکر کوي د مبارزې یو معلوم اوښکاره تاکتیک دي.

ددي مانا دا نه ده، چې دوي دولسي مبارزې په لاره اچولو یواځنۍ لارې دي، د حالاتو په نظرکي نیولو سره نور تاکتیکونه هم موجود دي، چې هغه یوتحریک لپاره په کم قیمت بهتري پایلي ولري. نوښت او ستراتیژیک فکرکول د تحریک لپاره د تاکتیکونو په غوراوي کي ستر ارزښت لري.

## ۵:-که تحریک کریزمالرونکي مشرونلري بیاڅه کیږي؟

په تاریخي لحاظه ډیرو موثرو ولسي مبارزو بدون له کریزما لرونکي مشرانو خپلي مبارزې په لاره اچولې، په جنوبي افریقا کي دنژادي تبعیض پرخلاف مبارزه هغه وخت، چې مشران یې زنداني وو او له خلکو سره یې تړاونه وو ډیري بریالي وي په ولسي مبارزو کي د مشر د شخصي جذابیت او د خبرو کولو له وړتیا مهمه داده، چې مشران په دي اړه، چې څرنګه د تحریک بیلابیل غړو ته غوږ ونیسي دهغو نماینګي وکړي. په متبادلو لارو چارو بیلابیل

اړخونه وسنجوي او د سيمه ييزو مشرانو سره پريکړې شريکې کړي. له دې برعلاوه په کريزما لرونکي مشران له حده زياته اتکا ځانګړي خطرونه له ځان سره لري، ځينې وختونه دغه ډول مشران دواکمنو لخوا دوي په واک کي له شريکولو له لاري او ياهم د زنداني کيدو له لاري له مخې ويستل کيږي. نماينده تحريکونه رامينځته کيږي کوم، چي کولاي شي، چي که د تحريک مشر له مخې ويستل شي دوي نوي مشران رامينځته کړي.

## ۶:-که ځاني داسي فکرکوم چي ولسي مبارزه زما په هيوادکي نشي بريالۍ کيدي؟

ولسي مبارزې هر وخت نه بريالۍ کيږي. خو دغه مبارزې ددي سره سره، چي پوهان او نور فکر کولو، چي دغه مبارزې به بريالۍ نشي د چيلي جنرال‌ګيستوپينوستي د نړۍ يو خونړۍ ديکتاتورګڼل کيدو ډيرو خلکو فکر کولو، چي ولسي مبارزه به د نوموړي په لري کولو کي پريکنده رول ولوبوي خو ولسي مبارزه دپينوشي په لري کولو کي موثره ثابته شوه او ډيرو کمو خلکو فکر کاوه، چي صربيايي ديکتاتور، صاسلولودان ميلانسوويچ (دبالکان قصاب)به د ولسي مبارزې دفشار په پايله کي له واکه‌ګوښه کړل شوي وي، خو بيا هم کله، چي ميلانسويچ خپلو عسکرو او پوليسو ته هغو زرګونو مظاهرينو، چي په ۲۰۰۰کال کي يې د نوموړي‌ګوښه کيدل غوښتل وځپي. دوي په خپلوښاريانو د ډزو کولو څخه انکار وکړو او د نوموړي د حکم له منلو څخه يې انکار وکړو. ميلاسوويچ بله لار نه درلوده او له واکه‌ګوښه شو.

که ستاسې په چاپيريال کي د ولسي مبارزې د بريا په اړه متردد ياست د ممکنه متبادلو لارو چارو په اړه فکر وکړئ، چي که هغه حقيقي وي دغه متبادلې لارې چارې له داخل څخه دسياسي سمون، په ټاکنو کي برخه اخستل، قانوني سيستم باندې عريضې کول د مخالفينو سره ډيالوګ او خبرې کول، نړيوالو لوبغاړو څخه د ملاتړ غوښتل او د وسله وال پاڅون رامنځته کول ټول هغه انتخابونه دي، چي د نړۍ په بېلابېلو برخوکي ازمويل شوي دي، اګر چي دايقيني نه ده، چي ولسي مبارزه به بريالۍ شي دا هم مالومه نه ده، چې دغه نورې لارې بريالۍ شي.

نو ځکه يو مخالف‌ګروپ بايد داسې لاره غوره کړي، چې هغه د متفاوت خلکو د ملاتړ ترلاسه کولو د مستبد د مشروعيت د ځپلو، استبداد د مخنيوی او له منځه وړلو او موجوده سيستم د ملاتړو ترمنځ د ويش د رامنځته کولو زيات چانس ولري.

د تاريخ په اوږدو کې ډيراپوزيسون‌ګروپونه تير شوي دي، چا چې يا د انتخابونو په اړه فکر کړی دی او ولسي مبارزې يې تر سره کړې ده. اګر، چې ځينې وختونه ولسي مبارزه د سياسي بدلون رامنځته کولو له نورو لارو چارو لکه‌ټاکنو، حقوقي‌ګوښونو، افهام او تفهيم او له داخل څخه د سيستم د سمون له تاکتيکونو سره مل وو.

## ۷ – که زمونږ مخالف تاوتریخوالی وکاروي نو بیا به څه کیږي؟

تاسې باید دا توقوع ولرئ، چې ستاسې مخالف به د تحریک په اړدو کې ستاسو برخلاف تاوتریخوالی کاروي. په تاریخي لهاظ دغه خبره تل په ثبوت رسیدلي ده.

لومړی، ددې لپاره، چې د رژیم لخوا د تاوتریخوالي ډک ځپلو مخنیوی وشي او یا هغه بند شي ولسي مبارزې تحریکونه کیدای شي له هغه تاکتیکونو پیل وکړي، کوم چې د تاوتریخوالي له لارې خپله ستونزمن وي.

د ېلګې په توګه د مستهلیکینو له خوا شلونونه، په کوم کې، چې خلک د ځنلګړو محصولاتو د نه اخیستلو لاره غوره کړې ده ، د دغه ډول احتجاج کوونکو ځپل ستونزمن دي،

ددغه ډول احتجاج کوونکي غیر متمرکز وي، او همدا لامل دی، چې حکومت نه پوهیږي، چې چا اعتصاب کړي دی او چا نه دی کړی،

کله چې احتجاجي مظاهرې او یا نور ولسي متمرکز تاکتیکونه وځپل شي، غیر سیاسي مقاومت یا غیر متمرکز او غیر فزیکي تاکیتیکونه لکه د فیس او یا له مالیي ورکولو انکار او یا ان عمومي اعتصاب، شاید د یو تحریک لپاره غوره انتخاب وي.

دویمه دا، چې ولسي مبارزې تحریکونه کولای شي، چې په نوښت ولاړ تاکتیکونه په دې خاطر، چې د دوئ د مخالف استبداد ولسي غبرګون رامنځته کړي وکاروي.

نړی ته د استبداد بربنډول، او د هیواد په داخل کې د انځورونو او قیصو له لارې د سرمایه ګذارۍ او نړیول شهرت له نظره د تحریک په پرتله د مخالف لپاره ستونزمنوي.

هر ډول استبدادي اقدامات ځاګړي اړخونه پېچلي کوي، ځنډوي او یایې بربنډوي، دغه کار ددې لامل ګرځي، چې واکمن نړیوال او ولسي ملاتړي له لاسه ورکړي.

دریمه خبره داده، چې د ولسي مبارزې یو لړ داسې بېلګې موجودې دي لکه په ۱۹۸۶ کال کې په فلستین کې، په ۱۹۸۸ کې په چیلي کې، په صربیا کې په ۲۰۰۰ کال کې او په یوکراین کې په ۲۰۰۴ کال کې، چرته، چې امنیتي ځواکونه اپوزیسوین سرهملګري شوي او دغه کار د رژیم لخوا د استبداد د تر سره کولو وړتیا تر ډیره بریده کمزوري کړې ده، د امنیتي ځواکونو د تحریک سره مل کیدل د ولسي تحریکو نو د هغو هڅو کوم، چې د رژیم څخه د امنیتي ځواکونو د ملاتړ د کمولو لپاره جوړ شوی وو، په پایله کې رامنځته شوی وو.

## ۸ – که زما مخالف نه قانع کیږي؟

ددې لپاره، چې تحریک بریا ترلاسه کړي، اړینه ده، چې د اسبداد سخت دریځي مسولین قانع کړل شي. لیکن اړینه ده، چې ځیني مفالین قانع کړل شي.

په یاد ولری، چې ولسي مبارزه ځکه موثره ده، چې دا د زرګونو هغه خلکو نظریات او افکارو ته بدلون ورکوي څوک، چې په مستقیماً روغ او استبداد څخه ملاتړ کوي. کل،ه چې ستاسي د مخالف د واک سرچېنې ضعفې شي، بیا ډیره پروا نه کوي، چې هغه قانع شي. د هغه واک یوې داسې نقطې ته راکمیږي، چې مخالفین پخپله فکر کوي، چې نوموړی د مبارزې په پایله تاثیر نه لري. له دغه امله هغه اړکیږي، چې د انتقال په شرایطو خبرې وکړي.

د بېلګې په په ډول د نژادي تبعیض برخلاف په جنوبي افریقا کې په ۱۹۸۵ کال کې د سپین پوستو له تجارتونو سره سره پریکون د موخې لاندې ګروپ ته دومره زیان واړولو، چې دوی په حکومت د حکومتيټکلارو د بدلولو لپاره فشار رامنځته کړو.

دغه تجارتونه شاید له تحریک څخه ملاتړ باندې نه وي مجبور کړی شوي، خو دوی دې پایلې ته ورسیدل، چې د حکومت لخوا د تحریک د ځپلو څخه د ملاتړ پرځای د تحریک ځینې غوښتنې ومني.

## ۹ ـ دابه ډیر وخت ونیسي که مونږ انتظار نه شو کولای نو بیا به څګه وي؟

ولسي مبارزه تل د وخت د خپل موثریتښودلو لپاره زیات وخت ته اړتیا نلري.

په داسې حال کې، چې په پولینډ کې د همغږئ تحریک تر لسو کلونو پورې پایلې ترلاسه نه کړل شوې، په فلپین کې اپوزیسون یواځې د څو کلونو په ترڅ کې وکړای شول ددغه هیواد دیکتاتور واکمن فیرنانډوس مارکوس راوپرزوي. هغه څه، چې د ولسي مبارزې لپاره بریګتي هغه د وخت تیریدل نه وي. بلکې هغه دادي، چې ایا تحریک د اقدام په ترسره کولو کې لاس دی او که نه؟

## ۱۰ ـ مونږ څګه بریا ترلاسه کوو؟

که ستاسې تحریک ولسي یوالی، له احتیاط ډک پلان او له تاوتریخوالي خالي نظم ولرئ، تاسې د بریا د ترلاسه کولو زیاتره چانس لرئ. په تحریک کې یووالي پریکنده رول لري ځکه تحریکونه هغه وخت، چې دوی د اکثریت اراده او ژمنتیا منعکس کړي. خلک په تحریک کې برخه اخلي ځکه، چې دوی په تحریک عقیده لري. خو که تحریک کې د یوالي کمی وي، که د تحریک موخه روښانه نه وي او یا مشکوکه وي، ډیر خلک به په تحریک کې ګدون کولو ته زړښه نه کړي.

پهټوله کې، بریالۍ ولسي مبارزې سړي او ښځې، کوچنیان، د منځني عمر خلک، موسنن خلک، د بېلا بېلو مذهبي او توکمیز پسمنظر لرونکي خلک، شګردان، مزدوران، پوهان، د تجارتيټولنې غړي او نور رایو ځای کړي دي.

پلان جوړول اړین دي ځکه، چې ولسي مبارزه د مخالف Protagincot لکه مبارزې، تحریک، مدنيګروپ او د هغوې مخالف ترمنځ یوه مقابله ده.

په دغه ډول یو مقابله کې، نظم او ستراتیژي د تحریک لخوا د رامنځته شوي قوت د انسجام لپاره اړین دی. په ولسي مبارزه کې مشرتابه د وسایلو د بهتر کاروني، د مخالف له کمزورو نقاطو څخه استعفاده کوي او د مخالف د اقداماتو د خنثی کولو، د وسایلو د رایو ځای کولو په خاطر ارزوني پېګډون یو شمیر تاکتیکي او ستراتیژګي پریکړې ترسره کوي.

ښې پریکړې ډیر کم وخت یو دم ترسره کیږي. د هغه پلان جوړونکو لپاره دوه ډوله پوهه اړینه ده.

لومړی، ستراتیژي جوړونکي د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو، چې دوی ورسره لاس او ګریوان دي بشپړه پوهاوې ته اړتیا ده. دوی همدارنګه د ټولني د بېلابېلوګروپونو د خلکو احساساتو او غوښتنو باندې پوهیدلو ته اړتیا لري. دویمه دا، چې د تحریک دستراتیژي جوړونکي باید پوهه شي، چې ولسي مبارزه څه ډول کیږي؟ دغه پوهاوی له شخصي تجربې د کتابونو او فلمونو اوانټرنیټ,له نورو باتجربې خلکو، چې په ولسي مبارزه اوسیاسي تنظیمونو کې تجربه لري په څېر له وسایلو څخه ترلاسه کیږي.

له تاتریخوالي خالي نظم مهم دی. ځکه، چې د تاوتریخوالي د مبارزې موثریت راکموي. عموماً د حکومت لخوا ځېلو ته لاره هواروي او دغه ډول ځېل ته مشروعیت ورکوي. له دې برعلاوه کله، چې یوه مبارزه په تاوتریخوالي کېښکلیل شي، دغه کار هټولنې د خلکو لخوا په تحریک کې د خلکوګډون راکموي. ځکه دغه خلک به د تشدد ښکاره خطرونه مني.

باالاخره کله، چې یو تحریک د پولیسو او اردو پرخلاف تاوتریخوالی وکاروي، دغه وخت دا ناممکنه وي، چې د سیستم د مدافعینو وفاداریانو ته تغیر ورکړل شي. او امکان لري، چې هغه نه ویل شوي همدردیاني، چې د تحریک لپآره د سستم د مدافعینو ترمنځ موجود وي، هغه شاید له منځه لاړ شي. دا کار د ولسي مبارزې ددې ډینامک، چې ولسي مبارزه یوه نسبتاً ازاده او بهتره ټولنه رامنځته کوي برعکس دی. د تحریک اقدام د هر پسمنظر لرونکي عادي خلک اقدام کولو ته رابولي. له همدغه امله ولسي مبارزه له سیستم څخه دفاع کونکو خلکو ته دومره په زړه پورې واقع کیږي لکه څومره چې هغو خلکو ته وي کوم چې سمستم پای ته رسول غواړي.

**تقل قولونه:**

"په حقیقت کې د ولسي مبارزه وه کومه، چې په جنوبي افریقا کې تغیر رامنځته کړ، کوم، چې په دولت د تغیر لپاره فشار رامنځته کړو ولسي مبارزې Stalemate رامنځته کړو، چې له دغه امله داسې حالات رامنځته شو، چې دولت ورته ځواب نشو ویلی" ډاکټر جانیت چیري.

"د مبارزې اصلي موخه د توجو راجلبول دي. په یو ګووټ کې کوم ته، چې څوک توجو نه کوي، کې ولسي مبارزه ترسره کول یو بې ځایه هڅه ده. که تاسې مبارزه کول غواړئ، تاسې اړیاست، چې دومره خلک خپلې مبارزې ته راجلب کړئ څومره، چې تاسې کولای شئ" مخسولي جیګ.

(( ددې لامل، چې استبداد بګیټ‌ې وو، داوو، چې د دینوټن د دریم قانون ، عمل او ردعمل په شان وو. کله، چې تاسې استبداد زیات کړئ، مقاومت هم زیاتیږي" ایوان مارویک

"د ولسي مبارزو ستونزه داده، چې دوی د جدي نظم او روزنې اړتیا ته ارزښت او روزنې، ستراتیژۍ جوړونې او پلان جوړونې او د خلکو د استخدام او هغه شیان، چې د یو تحریک لپاره ترسره کیږي، په رسمیت نه پیژنې. دغه ډول تحریک یو دم نه رامنځته کیږي. د ولسي مبارزې لپآره اړینه ده، چې په سیستماتیک ډول ترسره شي" جیمز لانس

------

د خلکو لخوا د غبرګون اساسات

د خلکو لخوا د غبرګون کلید

بربنډ یې کړئ: بې عدالتۍ بربنډې کړئ،بټول ونګوئ

بیرته یې ترلاسه کړئ. موخو ته په ثبوت ورسوئ، د ارزښت کمونه ونګوئ له سره یې په اړه فکر وکړئ. په بې عدالتۍښکګار ؤګړئ، له سره تغیر سره مقابله وکړئ.

له سره جهت ورکړئ: ملاتړ ته تحریک ورکړئ، له رسمي لارو چارو ځان خبر کړئ.

مقاومت وکړئ: د ویرې او رشوت ورکولو په وړاندې ودریږئ.

---------------

د خلکو لخوا د غبرګون موډل (نمونه) دبې عدالتۍ سره د مخالفت لپاره ده.

غبرګون:

کله، چې یو برید د هغه څه لپاره، چې بریدونه کیږي ملاتړ او یا د هغه لپاره د توجو لامل ګرځي، دغه حالت ته غبرګون ویل کیږي هره بې عدالتي اویا له نورم څخه سرفرونه دې بې عدالتي او یا سرغړوونکو پروړاندې غبرګون رامنځته کوي.

غبرګـون د مخالفت عامـه فکر او یـا د مخالفت د زیـاتو کړنـو لامـلګـرځـي. ان کـه سـر غړوونکي یـې عـدالتۍ لـه املـه غبرګـون سـره مـخ نشـي، پـه اوږد مهـال کـې دغـه ډول اشـخاص لـه غبرګـون څخـه تېښته نشي کولای.

د قـويګـروپونـو لخـوا اکثـره بـې عـدالتياني غبرګـون نـه رامنځتـه کـوي، ځکـه دوی کـولای شـي، چـې د خلکو غوسه د لاندې اقداماتو له لارې راکمه کړي

د بې عدالتيو له امله رامنځته شوې غوسې د کمولو لپاره پنځه لارې موجود دي:

۱ – اقداماتبېول

۲ – د موخې ارزښت کمول

۳ – هغه څه، چې رامنځته شوي د هغه بیا تفسیرول

۴ – د عدالت د صبغې ورکولو په خاطر رسمي لارې چارې کارول

۵ – هغه خلک، چې پکې دخیل دي هغوي ته جایزه ورکول او یا ویرول

**په بې عدالتۍ ولاړ برید په اړه د خلکو نظریات:**




د غوسـې د کمولـو او دا، چـې هغـه څـه ډول د یـوې پېښـې سـره تـړاو پیدا کـوي پنځـه طریقـې د هغـې په اړه د خلکو نظر او د دوی غبرګـون:

د غبرګـون لپاره دوه شرطونه:

۱ – یو اقدام ظلم دی، ناروا، زیاتی او غیر متناسبګڼل کیږي.

۲ – د اقدام په اړه مالومات اړونده خلکو ته مفاهمه کیږي.

د بې عدالتئ له امله رامنځته شوې غوسې د زیاتولو پنځه لارې

- اقدام بربنډ کړئ
- په ثبوت ورسوئ
- کړنه بېه بې عدالتئ سره تفسیر اوتېګار پرې ږکړئ.
- ولسي اندېښنې له بیا سره متحرکې کړئ ( له رسمي لاروچارو ځان وساتئ.

د ویرولو او ستایلو کړنې په ځګه او مقاومت ورسره وکړئ.